STAY SAFE MN

# اساسات

## د COVID-19 واکسين



## د COVID-19 واکسينونه خونديې دي او کار کوي.

یو واکسین د ناروغیو د مخنیوي لپاره جوړېږي. د COVID-19 واکسینونه ستاسو وجود ته وایي څنګه هغه ویروس چې د COVID-19 لامل کېږي وپېژني او ورسره مبارزه وکړي. د COVID-19 واکسین نشي کولی تاسو ته COVID-19 درکړي. د COVID-19 واکسين د COVID-19 ناروغۍ نه ستاسو په ساتنه کې خورا ښه دي. که تاسو د واکسين کېدلو وروسته په COVID-19 اخته هم شۍ، نو ددې احتمال به ډېر کم وي چې تاسو ډېر زيات ناروغه شۍ يا بايد روغتون ته لاړ شۍ.

**د COVID-19 واکسين د بېړني کاروني د اجازې وړاندې په یوه متنوع ډله (ډول ډول خلک پکې شامل وي) کې په احتياط سره ازمول شوي وو.** په لسګونو زرو تور پوستو، لاطينانو، امريکايي هنديانو، او آسيايي خلکو د فايزر (Pfizer)، موډرنا ا و جونسن اينډ جانسن څېړنو کې برخه اخستې وه. مونږ پوهېږو چې ډېرى وخت دغه ټولنې، زمونږ د معلوليت او LGBTQ+ ټولنو سره د درملو د ګټو څخه بې برخې پاتې شوې دي او رواني او تاريخي نژاد پرستۍ، طبي صدمې او ناوره ګټه اخستنه تجرنه کوي. دغه لاملونه (فکتورونه) دغه ټولنو لپاره د COVIT-19 اغېز لا خرابوي او پدې ارزښت ټينګار کوي چې دغه واکسين بايد ټولو لپاره کار وکړي او خونديې وي.

د COVID-19 واکسين په جوړولو کې هېڅ ډول د خونديتوب ګام ندی پرېښودل شوی. د خوړو او درملو اداره (FDA) واکسين ته اجازه ورکولو لپاره د خونديتوب معلوماتو ته اړتيا درلودله. سربېره پر دې، طبي څېړونکي د خونديتوب لپاره د واکسين څارنې ته ادامه ورکوي.

## ولې بايد تاسو د COVID-19 واکسين وکړى؟

- **د شديد COVID-19 نه او د COVID-19 اوږد مهاله اغېزو نه ځان** وساتئ؟
- **مونږ سره دغه وبا ته د پای ټکې ايښوودلو کې کمک وکړئ.**
- **د خپلې ټولنې ملاتړ وکړئ.** د هغو کسانو ساتنه وکړئ چې واکسين کېدى نشي (واړه ماشومان) يا واکسين ته ښه غبرګون نه ښکاره وي (هغوى چې د معافيت کمزوري سېستمونه لري).
- واکسين د ټولو لپاره **وړيا دي**. د بېمې او د ګدوالۍ وضعيت (پدې اړه) مهم ندی.

### يږل هن نىس‌كاو اد

- ساتونکي (هغه دارو چې د مواد د ساتنې لپاره کارولی شي)
- د خوک محصولات يا ګيلاټين
- هګی
- د COVID-19 ژوندی وېروس

## خوک واکسين ترلاسه کولی شي؟



**د مېنېسوتا اوسېدونکو ټول پنځه کلن او پورته خلکو ته سپارښتنه کېږي چې واکسين تر لاسه کړي.**

د ملاقات لپاره وخت اختسلو په اړه معلوماتو لپاره، د يو COVID-19 واکسين موندلو لپاره لاړو ليدنه وکړئ (www.health.state.mn.us/diseases/coronavirus/vaccine/findvax.pdf).

# کله چې واکسین ترلاسه کړئ نو څه تمه باید ولرئ



- د واکسین ورکولو لپاره روزل شوي خلک به تاسو د پروسې په لار په مخ بوځي، د احتمالي خطر یا جانبي اغراضو په اړه خبرې وکړي، او ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایي.
- د واکسین هر یو محصول بېلا بېل مهال ویش لري نو ځکه ځان باوري کړئ خبر اوسئ چې د اړتیا په صورت کې د پل ډوز لپاره کله بیا راشئ.
  - ◊ ممکن ځیني خلک د فایزر یا موډرنا COVID-19 واکسین دریم ډوز ته اړتیا ولري کچېرې هغوی داسې شرایطو سره مخ وي چې د معافیت سېستم یې کمزوری کوي.
  - ◊ د واکسین د لومړي لړۍ وروسته، ډېری خلک به د واکسین یو اضافي ډوز ته اړتیا ولري، چې ورته بوسټر شاټ ویل کیږي. یو بوسټر شاټ په لوړه کچه د محافظت (خوندیتوب) ساتلو کې کمک کوي. اوس مهال، هر 12 کلن او پورته عمر لرونکي لپاره د دې سپارښتنه کیږي.
  - ◊ ځیني خلک ممکن د اضافي محافظت لپاره یو دوهم بوسټر ترلاسه کړي، پشمول د زړو ځوانانو او هغه خلک چې داسې شرایطو سره مخ وي چې د معافیت سېستم یې کمزوری کوي.
- کله چې واکسین ترلاسه کړئ نو د واکسین یو کارت به درکول کیږي. دا به ښکاره کوي چې تاسو کوم ډول واکسین ترلاسه کړی.
- د واکسین ترلاسه کولو وروسته به تاسو د کوم جدي جانبي اغراضو لپاره څارل کیږئ.

## جانبي اغراض

ځیني خلک د واکسین ترلاسه کولو وروسته جانبي اغراض لري. جانبي اغراض عموماً یو یا دوه ورځې دوام کوي او عموماً تاسو د ورځني فعالیتونو څخه نه باسي. تاسو ممکن ولرئ:

- د لاس درد
- د عضلاتو دردونه
- ستړتیا
- سرخوږ (سردرد)
- تبه/لړزه

که جدي جانبي عوارض ولرئ، روغتون ته لاړ شئ یا 911 ته زنګ ووهئ.

## خپل ځان او نور خلک خوندي وساتئ

ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو او ستاسو کورنۍ د COVID-19 ټول هغه واکسینونه ترلاسه کړي چې تاسو یې وړ یاست، پشول د بوسټرو. دا مهمه ده چې د COVID-19 خپرېدل کمولو لپاره د عامې روغتیا اوسنۍ سپارښتنو تعقیبولو ته دوام ورکړئ. دا ګامونه د COVID-19 د خپرېدو د مخنیوي لپاره د هغه سخت کار ملاتړ کولو کې مرسته وکړي چې واکسینونه یې کوي.



یو ماسک په مخ کړئ (وئ).



که ناروغه یاست کور کې پاتې شئ.



خپل لاسونه پریمینځئ.



د نورو نه 6 فوټه واټن وساتئ.

MINNESOTA | mn.gov/vaccine

Minnesota Department of Health | health.mn.gov | 625 Robert Street North PO Box 64975, St. Paul, MN 55164-0975 | 651-201-5000
د غوښتنې لپاره د health.communications@state.mn.us سره اړیکه ونیسئ. (Pashto)

4/6/2022